# ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا، فَقَالَ: «ذَاكَ عِنْدَ أَوَانِ ذَهَابِ الْعِلْمِ

له زياد بن لبيد رضي الله عنه څخه روايت دی هغه ويلي: ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا، فَقَالَ: «ذَاكَ عِنْدَ أَوَانِ ذَهَابِ الْعِلْمِ» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَكَيْفَ يَذْهَبُ الْعِلْمُ، وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَنُقْرِئُهُ أَبْنَاءَنَا وَيُقْرِئُهُ أَبْنَاؤُنَا أَبْنَاءَهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ: «ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ زِيَادُ، إِنْ كُنْتُ لَأُرَاكَ مِنْ أَفْقَهِ رَجُلٍ بِالْمَدِينَةِ، أَوَلَيْسَ هَذِهِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى يَقْرَؤُونَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ، لَا يَعْمَلُونَ بِشَيْءٍ مِمَّا فِيهِمَا؟!». رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو څه يادونه وکړه، بيا يې وفرمايل: « دا به هغه مهال وي چې علم له منځه لاړ شي» ما وويل: اې د الله تعالى رسوله! علم به څنګه له منځه ځي، حال دا چې مونږ قرآن لولو او خپلو زامنو ته يې لولو، او زمونږ زامن يې خپلو زامنو ته لولي او - دا لړ به - د قيامت تر ورځې پورې جاري وي؟ هغه وفرمايل: مور دې درباندې بوره شي اې زياده، ما خو ته د مدينې تر ټولو زيات پوه انسان ګڼلې، آيا يهود او نصارا تورات او انجيل نه لولي، حال دا چې څه په هغوی - دواړو - کې دي په هيڅ شي يې عمل نه کوي ؟!».

[صحيح لغيره] [ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو اصحابو په منځ کې ناست و، نو ويې فرمايل: دا هغه وخت دی چې علم پکې له خلکو څخه اخيستل کېږي، نو زياد بن لبيد انصاری رضي الله عنه حيران شو او له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې پوښتنه وکړه! ويې ويل: څرنګه به علم له مونږ څخه پورته او ورک شي؟! حال دا چې مونږ قرآن لوستلی او حفظ کړی دی، په الله قسم چې مونږ به يې ولولو، او خپلو ښځو، ماشومانو او د زامنو اولادونو ته به يې وښايو. رسول الله صلى الله عليه وسلم په حيرانتيا سره وفرمايل: ستا مور دې پر تا بوره شي زياده! ما ته د مدينې د خلکو په علماوو کې شمارلې! بيا ورته رسول الله صلى الله عليه وسلم واضحه کړه چې : د علم ورکېدل د قرآن د ورکېدلو په - معنا - نده، مګر علم په نه عمل کولو سره ورک کيږي او له منځه ځي. دا تورات او انجيل د يهودانو او مسيحيانو سره دي؛ خو بيا يې هم ورته ګټه نده رسولې، او د دواړو له مقصد څخه يې ګټه نده پورته کړې؛ چې هغه په علم باندې عمل کول دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65045